# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

ویکتور خارا
ژباړه: فرهاد ویاړ
۱۰/۱۰/۰۸

## د ژوندانه حق

د ژوندانه حق
هغه پیغام دی
چې شاعر هوشی مین یې
له ویتنام څخه ټول بشریت ته ورکوي.
یو تونل به هم نابود نشي
ستا د شولو د کروندو یوه به ونه درېږي
سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.

هندو چین
د سرور سمندر هاخوا
هغه ځای دی چیری چې دوي ګلونه
د ډله ایزی وژني او ناپالم سره منفجروي
سپوږمی هغه انفجار دی
چې ټول فریادونه ویلی کوي
سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.

کاکا هوو، زمونږ ترانه
د ځلانده اور مینه ده
له کوترو څخه یوه کوتره
د زیتونونو د کروندي یوه ونه
یوه نړیواله ترانه
هغه ځنځیر چې بریا جوړوي
سوله ایزه ژوند، زمونږه حق دی.